# اساسي نظامنامه

## لوړ دولت د افغانستان

په ۲۲ حمل سنه ۱۳۰۶ هجري شمسیه کښ

مطبعه کښ د "شرکت رفیق" په ماشینخانه

د کابل کښ چاپ شویدی

شمار د چاپ ......... (۲۵۰۰)

بسم الله الرحمن الرحیم

# اساسی نظامنامه د لوی دولت د افغانستان

(۱) :- لوی دولت د افغانستان په دننه نی او باندنی کارو
خپلو د پوره استقلال او خپل واکی لری — تول
ځایونه او علاقی د ملکونو ددی مملکت تر حکم
او پاکه اراده د خپل پادشاه لاندی په صورت د
یو وجود تشکیل کیږی، او په هیڅ شان په علاقو
ددی دولت کی تفریق او جلا والی کولای نشی!

(۲) :- دین د افغانستان، پاك دین د اسلام
او رسمی او عمومی مذهب د افغانستان پاك مذهب

دحنفي دي - اهل د نورو دينو چه غير له اسلامه
په افغانستان کښې شته لکه هندوان او يهوديان
ترساتنه لاندې نيول کيږي په شرط د ورکولو
د جزيه او کړلو د تميزه نښې که آرامي او لازمي احترامات
ته د افغانستان خلق او وبچارېته ونه رسوي .

(۳)ـ د افغانستان پايتخت ښهر د کابل دَه - او ټول
تابعان خلق د افغانستان ته نظر د حکومت په يو
کتنه گوري چه خلق د کابل نسبت د نورو ښهرو
او علاقو رعيت ته هيڅ فرق او بيلوالي نه لري !

(۴)ـ په سبب د لويو لويو خدمتو چه اعليحضرة همايون
په باب د ترقي او پورته کول ، او استقلال د ملت
د پښتانه کښې ښکاره کړي دي - پاك ملت د پښتانه
ذمه بردار کيږي ، چه سلطنت او پادشاهي د افغانستان
په اولاد او زامنو د دې ترقي خواه پادشاه ته په اصول
د اولاديت په انتخاب او خوښه ول د پادشاه او د ملت

نقل کیږی ـ ذات د منوکانه به پوقت د کیناستلو
پرتخت دَپادشاهی بانگ په حضور د اشراف او
معتبرین د ملت ذمه بورداره کیږی، چه هم
دُ "شرع شریف" او د دی نظامنامی سره به ابرا دَ
حکمونوکوی ـ رعایت د "استقلال" د "افغانستان"
اوصداقت لپاره د ملّت او د وطن به کوی .

(۵):ـ ذات د اعلیحضرت خدمتگار او ساتونکیَ
دَدین مبین دَ اسلام،تولواک او پادشاه د تمامی
تبعه او رعیت د افغانستان دی !

(۶):ـ تول کارونه د افغانستان په واسطه د وزیرانو
د دولت [چه په امرو پاکه اراده او خوښوالی دَ
اعلیحضرت دیږی] اداره او جاری کیږی
هریو له وزیرانو خپلو وظیفو وکاروکښ مسئول
وجوابده دی ـ له دی جهته ذات د اعلیحضرت
مسئول نه گرځی .

(۷):- په خطبه کښې اخستل د نوم د پادشاه، وهل د سکې په نامه د پادشاه، تعیین او خوښول د درجو او د منصبو برابر خاصو قاعدو د ځلو سره، د دول د صدر اعظم او د نورو وزیرانو، او معزولول او بدلول د دوی، تصدیق او دستخط کول د عامو نظامنامو، اعلان او حکم کول د ساتنه د دوی، ساتل او جاری کول د حکمونو د شرعی او قانونی، قومانداني او مشروالی د ټول لښکر د افغانستان، اعلان د جنګ او صلح کول، عقد و ترل د ټولو عهدنامو، بخښل یا تخفیف ورکول د مجازات د قانونی عموماً یا خصوصاً، دا ټول د لوی حقونه د پادشاهی تخته شمیرل کیږی.

## (عام حقونه د تبعی او اوسیدنکی د افغانستان)

(۸):- هر څه نفری چه ملک کښې د افغانستان دی، بلا تفریق په هر دین او مذهب چه وی تابعان او

رعیّت د افغانستان بَلِل کیږی ـ صفت دِ
تابعوالَی د افغانستان سَم له خاصی نظامنامی
سره وُرکول یا ضایع وآخستل کیږی .
(۹) :- تول اوسیدونکی د افغانستان په کاروکښ دین
اومذهب او په سیاسی نظامناموکښ د دولت
پابند او مقیّد دی، چه پری عمل وُکړی اوپه حقو
دجان خپل کښ آزادی لره مالك دی .
(۱۰) :- خپل وَالی اوآزادی دهر سړی له هرقسمه خلل
اومداخلی څخه ساتلی شوی دی ، هیڅ څوك بې
له حکمه د شرعی اوقانونی نظامناموڅخه نه توقیف
کیږی اونه جزا ورکوله کیږی،
افغانستان کښ اصول د بندی گرت بالکل موقوف
اومنع دی ، هیڅ نارینه اوښځه په قسم د بندی
گرت بل څوك خدمتکار اونوکرساتلی نه شی
(۱۱) :- چاپی پاڼی اواخبارونه دننه د افغانستان سم له

خپلی نظامنامې سره آزاد دی. جاری کول دِ
اخبار محض له حقوقونه د حکومت یا د اسیدونکي
او رعیت د افغانستان دی - دِ خارجه چاپي پاڼو
په باب کښې حکومت دِ افغانستان څه قیدونه
او شرطونه اېښودای شي

(۱۲) :- او سیدونکی د افغانستان سم له نظامنامو سره
دِ پاره دِ سوداګری، کسب، کار، کښبنت وګرنه
هر رنګه شرکت کولی شي.

(۱۳) :- رعیت د "افغانستان" یو سړی یا ډله، که یو کار خلاف
د شریعت غرّاء یا له نظامنامو دِ دولت او مامورین
یا له یل چا څخه ووینی، د اخوا او دربار و د دولت
ته برئ عرضوی - که په هغه دربار و کښې څه عرض
شوی دی - وانوریده شي او بازخواست و نه شو
ونه شي، په سلسله د مراتب سره پورته تر هغه
درباره د عرض ورسوی، او که غورئ به هیڅ دلیل

کېږي و نه شي مخامخ حضور مبارک ته د پادشاه
عرض کولای شي .

(۱۴):- کار د تدریس او سبق ورکول، بالکل آزاد او خلاص
دی، چه سره له نصاب سره د عمومي معارف
هر یو له تابعانو د افغانستان څخه په قسم د عمومي او
خصوصي، درس، ویلای شي - مګر بیګانه خلق،
په داخل د افغانستان کښي، په خلاصول د مکتبو
سره اجازه نه لري - غیر له هغو څخنې، چه
لپاره د تعلیم نوکران شوي وي .

(۱۵):- ټول مکتبونه د افغانستان، د حکومت
تر پلټنه او علم آوري لاندې دي - حکومت
په ټول هغه سببونو او تدبیرونه غور و
کوشش کوي، چه لپاره د تربیت د علمي او قومي
د ټولو وسیدونکو د افغانستان په یو شانی
سم او برابر وي - مګر هغه تعلیمي قاعدې ته،

هیڅ خلل و بې ځایه نه رسیږي، چه په اُمورو
د دیني او د مذهبي د هندوانو، یا نورو اماتن
غوښتنکو پورې تعلق لري.

(١٦):- متبوع تابعان د افغانستان په مخ د شریعت او
نظامنامو د دولت په حقوقو او وظیفو د وطن کښي
یو رنګ دي.

(١٧):- عام تابعان د افغانستان، په اندازه د
قابلیت او اهلیت و د هر قوم خپل، په ټولو
ماموریتو او نوکریو کښي په اندازه د احتیاج
د دولت نوکر کیدلای شي.

(١٨):- مالیې او محصولات په قرار د نظامنامو د
هغو، له تابعانو د افغانستان نه په اندازه
و استعداد او ودانۍ د دوی، اینبول او
اخستل کیږي.

(١٩):- په افغانستان کښي د هرچا هسې مال او ملک

چه د ده په تصرف او په لاس کښې وي، په امن او ساتنه کښې دي - کډ کمه زمکه، لپاره د یو عامې فائدے، دِ دولت پکارشي، سم له خاصې نظامنامې د هغې سره، پس له ورکولو د قیمت د ملک خاوند ته ئې هغه ملك آخستای شي.

(۲۰):- کور او ځای د استوګنې، د هر یوه د تابعانو د افغانستان، له هر راز ه لاس وهلو څخه ساتلي شوي دي - هیڅ څوك له لورې د حکومت او د بل چانه، بې له حکمه د نظامنامو، د هیڅا کورته جبراً بې له اجازې د خاوند، ننوتای نه شي.

(۲۱):- په محکموکښې د عدلیه، ټول عمومي عرضونه دادونه، سم له شریعته او قاعدو د محکمو د حقوقیه او جزائیه فیصله او خلاصیږي.

(۲۲):- بیګار او په زور سره چاباندې کار کول او شي آخستل بالکل موقوف دي ـــ مګر هغه کا

او تکالیف چه یوقت د غزا او د جنګ کښ پېښ شي، سم له خاصی نظامنامی د هغی سره، لدې قاعدې نه وتلی دي!

(۲۳):- خارج او وتلی له نظامنامو د دولت نه هیچا څخه هیڅ شي نه اخستل کیږي.

(۲٤): پشکنجه، پانه، کنده، نور قسمونه د زجر، وهل تکول موقوف دي - بیرون له حکمونو د شرع شریف او نظامنامو د دولت، چه سم له حکمو د شرعی سره تنظیم او جوړی شوي دي، هیچا ته مجازات نه ورکول کیږي.

## وزیران

(۲۵): په افغانستان کښ، وظیفه او کار د اداره د "حکومت" "هیئت وزراء" او "اداره مستقله" ته سپارلی شویدي په وقت د یوځای کیدو د "هیئت وزراء" کښ "ریاست" و مشرتوب د مجلس، پخپله "اعلیحضرت"

کوي او که ذات شاهانه تشریف نه درلود،

مشرتوب د مجلس په "صدر اعظم" کوي،

که "صدر اعظم" حاضر نه وي، له جملې د وزیرانو اول

وزیر د وزرانو، په کار د مشرتوب اجرا کوي.

(۲۶) :- په حال د غائب والي د دوله وزیرانو څخه، چه وکیل

د دل کیږي، دا وکیل کټ مټ اختیارونه

او حقونه د هغه وزیر لري!

(۲۷) :- په هر کال کښې پښتو عمومي عید د استقلال نه په

یوه خاصه ورځ کښې، چه د اعلیحضرت له خوا نه

معینه کیږي، په مشرتوب د اعلیحضرت یو لوی

دربار به ترل کیږي. هغه دربار جوړیږي له

مأمورینو د دولت، او له غټانو، لویانو نه، چه

"ذات شاهانه" له لوري غوره وپسند شوي وي،

په مخ د هغه دربار کښې، به "هر وزیر" او "مستقل مدیر"،

یو کلني اجراآت او خدمتونه ئې بل شکاره بیان او

خرکنده وی !

(۲۸):- "صدر اعظم" او نور "وزیران" د "اعلیحضرت" له خوانه غوره او معلومیږی !

(۲۹):- "مجلس وزراء" مَرْجَعْ وشمای د تلل، د تول دننه نی او بانه نی لوی کارو د دولت دی. - هغه مذاکرات او خبری د وزیرانو او قراردادونه، چه تصدیق غواړی، پس له امضاء او دستخط کول د "اعلیحضرت" نه په جاری کیږی .

(۳۰):- دِ وزیران هغه کارونه چه د دوی وزارتونه ترلی شوی دی، په هغه اندازه چه اختیار او واك د دوی کښ وی، دوی ئے پخپله اجرا کوی او پورته تر واك خپل نه هغه چه پخپله حضور د اعلیحضرت ته، بهٔ ئی وړاندی کوی. - او هغه کارونه چه سم له بیانه د نظامنامی د کارو د "مجلس وزراء" تر هغه مجلس پوری تعلق لری، ؛

د اعلیحضرت په وړاندې حضور

"مجلس وزرآء" ته آچول کیږي ـ "مجلس وزراء" په هغه کارو کښې سم له خلاصې نظامنامې د مجلس دِ دُوی خبري ، ویل به کوی ، بیا به چاره او خلاصوالی د هغه کار سره له خپلو فکرو امضاء کوی!

(۳۱) :ـ هر یوله وزیرانو ، په عام سیاست او تمام کارونه د دولت کښې په شریکې ؛ او په هغه کارو کښې چه وظیفه د هغه وزارت او پخپله د غه وزیرو پوری تعلق لري ؛ یوازی په حضور د "اعلیحضرت" مسئول او جوابده دی .

(۳۲) :ـ په هغه کارو کښې چه یوله وزیرانو څخه یا نورو کاردارانو ته دِ اعلیحضرت له خوانه دِ خُولِی حکم وشی ، په دی حکم کښې به فرمان په دستخط د اعلیحضرت سره حاصلوی .

(۳۳) :ـ کر یوله وزیرانو د دولت نه ، په کار د وزارة خپل

کښې تر محاکمې لاندې ونیوه شي، محاکمه د

دوی د "دیوانِ عالي" ته ورشي، محاکمه د هغو به

هم له خاصې نظامنامې سره سم خلاصیږي. - او

نوری دعوی د خپل ځان د وزیرانو چه له سرکاري کاروته

وړلی وي، په شان د نورو رعیت محکمو د عدلیه ته به ورشي

(۳٤):- هغه وزیر چه د "دیوان عالي" له خوا تر تهمت لاندې راشي

تر هغه پورې چه نتیجه د محاکمې او خلاصیدل د

هغو معلومیږي، له کارو د وزارت نه به معطّل پاته

کیږي.

(۳۵):- حساب او اندازه د وزیرانو - جوړیدنه د دائرو او

وظیفې د هغو په نظامنامه د "تشکیلات اساسي"

کښې ښکاره دي.

## مأمورین

(۳٦):- عام مأمورین، کارداران، سم له هغه قاعدو سره

چه په خاصو نظامنامو کښې بیان شوي دي، په هغه

کاروکښې چه ورته مناسب له هر چا سره (تعیناتی) اودوول کیږی - او هیڅ یوله کاردارانو څخه ترهغه پوری چه له وظیفې څخه نه خلاصنه ونه غواړی، یاله بد ګماری د دوی نه لائق د معزولیدو ونه شی یا د دولت له لوری په سبب د یو ضروری کار مناسب د بدلیدو موقوفیدو ونه وی بالکل نه معزول او نه موقوفیږی هغه ماموریں چه سبه والی د کندران او سم والی د خپل خدمت معلوم او څرګند کړی حق د لوړوالی د مرتبې او د کاری او د مستمری (تنخواه) لری.

(۳۷): - د کاردارانو وظیفې د کارداری په خاصو نظامنامو کښې بیل بیل ښکاره شویدی هر یو سړی له خاصو نظامنامو سره له خپلو خدمتو څخه پیښتل کیږی.

(٣٨):- تول مامورين په مراتبو د رجو خپلو سره په
فرمان منلو د لوى آمر خپل كښى سره له نظامنامو
د دولت سره مكلف او موظف دى - كه د
هغو د پورته آمر له خوا، په اجرا كولو د
كوم كار كښى، خلاف له نظامنامو د دولت
نه، امر او تاكيد وشى، لازم كاردارانو د
هغو، د مركز وزارت ته، دا خبر ورکړي،
كه بى خبر ورکولو مركز ته هغه كار و نه خلاف
له قانونه ئى، اجرا كړل؛ دوى هم مسئول او
جواب ده دى -

## مجلسونه د مشورې
## او
## شورې د دولت

(٣٩):- په مركز د پايتخت كښى بو هيئت د شورا د
دولت، او په نائب الحكومكيو كښى، په اوله

د ویمه، دریمه درجه حکم متوکیږي، او په علاقه

داریوکیږي یو یو مجلس د مشورې موجود ده.

(۴۰)- اعضا د مجلسو د مشورې او "شورای دولت" جوړیږي

دي له "طبیعیه اعضا" او له "منتخبه اعضاو" څخه.

(۴۱)- طبیعیه اعضا د مجلس د مشورې له هغه مامورینو څخه دي، چه په نظامنامه د "تشکیلات اساسیه" کښي بیان شوي دي

او طبیعیه اعضاو د "شورای دولت" برابر په شمار

د "اعضای منتخبه" د "شورای دولت"، په خپله

له خواد "اعلیحضرت" نه تعیین او غوره کیږي

او ټول "اعضای منتخبه" د رعیت له طرفه معین

او مقرریږي — په باب د صورت د انتخاب ددوی

کښي ځان ځان ته قاعدې په نظامنامه د

"تشکیلات اساسي کښي موجودي دي!

(۴۲)- مجلسونه د مشورې او د "شورای دولت" زیات

تر هغه وظیفو چه په نظامنامه د تشکیلات

اساسی کېنې ښودلی شویده دالاندې کارونه هم له وظیفو
د دوی ځخه دی :-

الف: دکسب اوکار، سوداګری، کرنه، معارف
ترقی ولویوالی دپاره، هرځه تکلیفونه ربږونه
چه مناسب ووینی د دولت ته بدئ وړاندې
کوی.

ب:- په خصوص د مالیو، محصولاو نورو معاملو
دحکومت کېنې - که مخالف له قاعدې د نظامنامو
ووینی - په نیت دجوړښت د داسی شان
کارو، حکومت ته عرض او اد
کولای سی!

ج:- که په هغو حقو کېنې د رعیت، چه سم له
نظامنامی سره ورکړی شوی دی له یوخوا
ځخه خلل وخرابی ووینی، صلاحیت دعرض
اوحق دغوررسی لری.

(۴۳) :- هغه فقری چه مجلس د مشوری د ولایات
او د نوروشایو، حضور ته د نائب الحکومه او د
حاکمانو عرض او وړاندی کوی - هغه
چه په اندازه د اختیار او واك د "نائب الحکومه"
او د حاکمانو سرته وی، د هغی پخپله اجرا کوی - او نور واك نه پوره ته
به هغه "وزارة" ته لیږی چه دا فقره دی پوری تعلق لری.
هغه "وزارة" به لازم الاجراء اجراء کوی - او که لازم الاجراء
نه وی سم له (۳۰) قاعدی سره د نظامنامی کار کوی.

(۴۴) :- هغه فقری چه مجلسو د مشوری نه "نائب الحکومه گان"
او حاکمان ته عرض وړاندی کیږی - د نائب الحکومه گانو او
حاکمانو له خوا نتیجه او ځواب د هغه مجلس د مشوری ته تر یوی
میاشتی ښکاره نه شی، مجلسونه د مشوری عرض د
حاجتونو خپل شورای دولت ته کولای شی.

(۴۵) :- هغه فقری چه مجلسونه د مشوری یې شکایة
شورای دولت ته ولیکی - شورای دولت به پخپل فکر

په دغه باب کښې ولیکي- او هغه "وزارت" ته به خبر ورکوي، چه داسې فقره لې په تعلّق کښې وي- که په اجراء د هغې کښې د "وزارت" له خوا جنډه و معطلي پيښه "شوراء دولت" هغه فقره حضور د "اعلیحضرت" ته وړاندې کولای سي.

(۴۶):- نظامنامې د حکومت، د "شوراي دولت" له خوا په غور سره جوړ، او "مجلس وزرا" ته وړاندې کیږي- پس له تصویب وقبلیدو د "مجلس وزرآء" او منظوری د "اعلیحضرت" ته په ځای د اجرا و چلول کښې اینبودل کیږي.

(۴۷):- زیاد په هغه "اعضای طبعیه" باندې چه همیشه په "شوراي دولت" کښې وي، په ملکي کار د اراده الله "نائب الحکومه" ته او اعلی حاکمانو پورې- او له لښکرې منصبدارانو "نائب‌ تر" او "امشر" پورې چه په کار دانه هغه خلاصوی؟ او تر محاکمي لاندې نه وي

داخلی - په جمله د "اعضای طبعیّة" د "شورای دولت"
کښې، تر وقت د معلومید و د خپلې کاردارۍ د دُوی نه
وتلای سی.

(۴۸) د هر کال "بودجه" چه په "وزارت مالیّه" کښې جوړیږی،
سره له عمومی نظامنامې د "بودجې"، "شورای دولت" کښې
په نظر د غور سره کتله کیږي.

(۴۹) مخبری او عهدنامې او قراردادونه چه بیګانه وُسره
کیږي، د "شورای دولت" له خوا ملاحظه کړه او نظر د
غور په کیږی

## محکمې

(۵۰) په عدلیّه محکمو کښې هر راز دعوی ښکاره جاری کیږي،
بوخه دعوی چه په خاصه نظامه د محکمو کښې بند ولی شوی یکی،
د مغلوبو فقرو دعوی. قاضی په پټه سره اجراء کوی.

(۵۱) په مخ د محکمو کښې هر څوک، لپاره د ساتنه د خپل حقونو لی
بې غم شرعی واسطې او مخبری، و پاندې کولای سی.

(۵۲):- محکمی د مدلّلیه په لید ل او خلاصه و ل د دعوو کښې چه په وظیفه د دوی کښې وي جنډه او معطلی کولای نه سی

(۵۳):- تولی محکمی له هر راز مداخلت وخود غرضی څخه خلاصی دي .

(۵۴):- راز ونه او دیې د محکمو، والی او اختیار د دوی په نظامنامه د "تشکیلات اساسی" کښې روښانه بیان شوي دي .

(۵۵):- هیڅ څوك غیر له محکمو د عدلیه نه چه د حکومت له خوا مقرّري دي ، هیڅ محکمه لپاره د خلاصولو د بعضی خاصو دعوو جوړه ولای نه شي .

# دیوان عالی

(۵۶):- "دیوان عالی" خاص له پاره د محاکمی د وزراء د دولت په وقت د ضرورت د څه وقت له مخی جوړیږي - او پس له بوره کولو د هغه کار چه ورسپارلی شوی ده فسخ وورانیږي .

(۵۷):- ران د جوړولو د "ديوان عالي" ارتباطي د محاکمي د مخه

له خپلي خاصي نظامنامي سره سم جاري کيږي

## د ماليي کارونه

(۵۸):- ټول محصولونه د دولت سم له خاص قانون خپلي سره آخسته کيږي.

(۵۹): هر کال له پاره د دخل او خرڅ د دولت يوه "بودجه" جوړيږي او دا "بودجه" به اساس و دستور العمل وي له پاره د دخلو او خرڅو د دولت، ټول دخلونه او خرڅونه ددي له مخي آخستنه، او په خرڅ رسول کيږي.

(۶۰):- پس له جاري کيدلو د سالانه "بودجي" او تماميدلو د کال يو قطعي حساب به جوړيږي، چه د اقطعي حساب به دخل او خرڅ صحيح اندازه ددي تير کال ښکاره کوي

(۶۱):- لپاره د تحقيق و غور ددي خبري چه آيا دخلونه او خرڅونه د دولت په ربښتيا سم له نظامنامي د "بودجي" سره شوي دي وکه نه؟

"بودجه" د سنجش جوړيږي - "ديوان سنجش" د پاره خاصه نظامنامه سته

(٦٢):- له پاره دجوړولو د محاسبهٔ قطعيّه او د پاره دجوړولو د بُودجې، اوصورت د تطبيق وُ بيرا بره ول اوچلولو دهغي خاصه نظامنامه نسته

## دولاياتو اداره

(٦٣):- دولاياتو اداره له دړى قاعدى واساسي څخه بناوجوړه ده- زياد والى د اختيار، بيلوالى د وظيفه اوكار، معلوميدل د مسئوليت وبازخواست بناپردا قاعدوسره چه ذكر شوى- وظيفي وكاروونه د ولايتود كاردارانو سم له جوړى شوى نظامنامو سره معلومى اوبيلي شوى دى- ياك واختيارداري دتو كاردارانو هم له نظامنامو خاصوسره محدود وبنكاره شوي دي- هر مامور په وظيفو خپل كښي په درجه سره هغو مامور چه په مرتبه كښي له ده نه پورته وى، جواب ده دى.

(٦٤) په ولايتو كښي د هر وزارت له خوانه بيل بيل كاردارا مقرر دى، رعيّت په له پاره د اجراد كار اونظام ولږ

د حلجتو خپل، اوّل همغه مامورته ورځي چه د ا
کار و ورپوری تعلّق لری!

(۶۵):- که چلول او اجراد کار د رعیّت په مامورانو کښې
یا په حق د دوی کښې ماموریې خلاف له نظامنامو نه
رفتار وکړی - دوی په سبب د معطلی او
جنډره ولو د کار او بد رفتاری د کار د ارتو کښې
کاردارته د عرض وکړی - او که دوی
نه اوریږی و نائب الحکومه او اعلیٰ حاکمانو
ته عرض او داد کولای سی.

(۶۶):- تشکیل او جوړول د دائرو د بلدیّه، او
وظیفی د هغو په خاصه نظامنامو کښې وونبا نه
بیان شویدی.

(۶۷):- هر کله چه په یو کوم ښار د ملک کښې علاقې
د سرکشی او د یاغی والي چه عمومی امنیّت ته
خلل رسوی ښکاره شی دولت د حکومت

حکومت لښکری اعلان کوی او لښکری اداره جوړوی.

## متفرقه قاعدې

(٦٨):-رعیت او تابعان د افغانستان ته زده کول د ابتدائی درجې د علم لازم او ضروری دی. درجې او ښاخونه د تعلیم په یوه خاصه نظامنامه کښې ښکاره دی چه موافق او سم له هغې سره زده کیږی.

(٦٩): هیڅ ماده او قاعده د دې "اساسی نظامنامې" په هیڅ سبب او په هیڅ شان سره نه معطلیږی او نه ئې حکم د چلولو ساقطیږی.

(٧٠): په سبب د ضرورت او لازم والی که کمه قاعده د دی "اساسی نظامنامې" اړول او بدلول وغواړی پس له فکره و د دوه له درو برخی

ځنې د اعضاء د شوراى دولت او تصويب او پسند له
د عالي مجلس وزراء "حضور د" اعليحضرت" ته وړاندې
کيږى. آئين عمل او بدلول هغې ممکن دى.

(٧١):- که شرح او ترجمه او ښکاره بيان کول د يوى
مادى د دى "اساسي نظامنامى" يا د نورو نظامنامو
د دولت لازم او ضرور وليده سى "شوراى دولت"
ته ليږل کيږى - پس له صحيح کول او ښکاره
بيانولو د "شوراى دولت" او خوښولو د عالي "مجلس
وزراء" چاپ شوى نشر او خپور کيږى.

(٧٢):- په وقت کد جوړولو د نظامنامو کښي معاملى د
خلقو مقتضيات، خواهشات د زمانى خصوصا
حکمونه د "شرع شريفي" په خورا ښه تحقيق
سره کاته کيږى.

(٧٣):- ساتنه د کاغذونو وله حقوقو د استقلال وتکو د وطن
څخه دي محصولي مکاتيب وخطونه چه پوسته

کښې ورکول کیږي ترڅو چه یوې محکمې له خوا ته حکم د گناه
ونسي په هیڅ پوسته خانه او نورو ځایو کښې نه لوستل
کیږي. همغسې سرتړلې هغه چاته چه لیکلې شوې
دي سپارل کیږي.

د اساسي نظامنامه له اوله تر آخره پورې یو شلې په (۱۰)
د حوت ۱۳۰۱ لویه جرگه کښې د سمت مشرقي په اتفاق د فکرو
د دولت د وزیرانو او د ټولو ملتي وکیلانو له پاره د اساسي
د لوړ دولت د افغانستان قبول او خوښه شوې دی - او اوس
سوه موه او یا کس غټان د مرکي په سموالی او صحت د دي مهر
او دستخطونه کړي دي - او بیا په ستر مجلس کښې د لویه جرگې
چه په میاشت کښې د سرطان ۱۳۰۳ په پغمان کښې جوړه شوې
وه، له تصویب او خوښوالی د ټول علما، سادات، شیخان
وکیلانو، غټان د کل افغانستان نه وتلې دی.

په تمیز لودی له نجي نظامنامه د دولت اوبه اجرا کول او د حکومت د قاعده
د دې بانډې حکم ورکوم.

(۱)

د دې غلطنامې لپاره چې هغه څلورمه د دې «اساسي» نظامنامې چې په چاپ کښې غلط شوي دي تصحیح د کړل شي:-

| مخ | کرښه | داسې چاپ شوي | داسې دې ولوست شي | مخ | کرښه | داسې چاپ شوي | داسې دې ولوست شي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سرلیکه | ۳ | لوړ دولت | دلوړ دولت | ۱۲ | ٤ | د تهول | د تهولو |
| ۱ | ۳ | په د ننه نې | په اداره کولو دننه نې | ۱۲ | ۵ | لوی | لویو |
| ۱ | ٤ | خپلو زیوره | خپلو پوره | 〃 | ۹ | وزیران | وزیرانو |
| ۱ | ۸ | دولت کن | دولت کښی | 〃 | ۱۲ | تر د اعلیحضرت | د اعلیحضرت |
| ۲ | ۱٤ | اوزامنو ودی | اوزامنو د دی | ۱۳ | ٦ | کاروته | کارونو |
| ۳ | ۳ | ذمه برداره | ذمه بردار | ۱٤ | ٤ | څارن | د څارن |
| ۳ | ٦ | وطن به کوی | وطن خپل په کوی | ۱۵ | ۵ | مغزولیده و | معزولیده و |
| ٤ | ۱ | په خطبه کښ | په خطبو کښی | 〃 | ۱۰ | کاوی | کاردادی |
| ٤ | ۲ | د د جو | د د رجو | 〃 | ۱۵ | پنستل | پنستیدل |
| ٤ | ۳ | برابرخاصو | برابرله خاصو | ۱٦ | ٦ | لاندل | لاندی |
| 〃 | 〃 | سره د دول | سره وزکول د نشانو د دول | 〃 | ۱۲ | شوری | شورای |
| ٤ | ۱۱ | د اتهوله د لوی حقوقو ته | د اتول د لویو حقوقو | ۱۷ | ٤ | طبعیته | طبیعیته |
| ۵ | ۵ | د دولت | د دولت خپل | 〃 | ٦ او ۵ | طبعیته | طبیعیته |
| ٦ | ۲ | اسید ونکی | اسید ونکو | ۱۸ | ۱ | شویده دالاند | شویدای دا لاندې |
| ٦ | ۱۳ | وغوری | وغوړئ | 〃 | ۵ | وویسی | ووینی |
| ۷ | ۱۱ | پلنند | پلیتمنه | 〃 | ۱۵ | عوردسی کړ | غوړیږي وحکومت ته لړی |
| 〃 | 〃 | لاندی دی | لاندی وی | ۱۹ | ۸ | اسم له (۳۰) قاعدې | سم لیک (۳۰) او کړه قانونی کې وی سم له (٤٦) قاعدې |
| 〃 | ۱۲ | تل بیرونه | تل بیرونو | | | | |
| ۸ | ٤ | د شریعت | د غراء شریعت | 〃 | ۱۰ | وحاکمانته | او محلی حاکمانو ته |
| 〃 | ۱۱ | ماانی | مقرري مالیئ | ۲۰ او ۲۱ | [illegible] | طبعیته | طبیعیته |
| 〃 | 〃 | نظامانو | نظاماتو | ۲۲ | ۱۱ | نقرو | نقرو |
| 〃 | ۱۲ | نه په اندازه و | څخه په اندازه د | ۲۳ | ٤ | خپلی | خپل |
| ۹ | ٦ | اسنوکی | استوګنی | 〃 | ۱۲ | په دخل | په د دخل |
| ۱۰ | ۷ | موقوف دی | تول موقوف دی | ۲٤ | ۵ | بناوجوړیدې | بناوجوړیده |

د ... غلطنامې له مخې هغه ځایونه دي د «اساسي» نظامنامې چه په چهاپ کښ غلط شوي تصحیح دې کړل شي:-

| مخ | کرښه | داسې چاپ شوي | داسې ولوستل شي | مخ | کرښه | داسې چاپ شوي | داسې ولوستل شي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٢٤ | ٦ | وظیفه | وظیفې | ٢٧ | ١٥ | خطونه د پوکښ ستنه | خطونه دخلقو په یو ستنه کښ |
| 〃 | ١١ | خیل | خپلو | | | | |
| ٢٥ | ١ | همغه مامورته | دهغو شعبې مامورته | ٢٨ | ١ | خواته | خوانه |
| 〃 | ١١ | خاصه | خاصو | 〃 | ٥ | دا اساسي نظامنامه | مادې د اساسي نظامنامې |
| 〃 | ١٥ | حکومت محکومینو | دلیکري حکومت | 〃 | ٩ | کس | کسه |
| ٣٠ | ١٤ | نظامنامه | نظامنامې | 〃 | ١٠ | لویه جرګه | لوۍ جرګې |
| | ٣٠ | کېږي آیه ول | کېږي، پس له منظورېدو بحضوره آیه ول | 〃 | ١٢ | تول | تولو |